**د کډوالۍ ضد پالیسۍ له لارې د کډوالو مړینه د امریکا تربګنۍ په ډاګه کوي او ښيي چې پانګوال نظام او د ملي دولت سیاستونه نور د له منځه تلو په حال کې دي**

د جون پر ۲٦مه د جنوبي امریکا یو وګړي، اوسکار البرټو مارټینز رامیز غوښتل چې د مکسیکو له لارې د امریکا متحده ایالتونو ته واوړي، خو په ریو ګرانډ سیند کې له خپلې دوه کلنې لور سره غرق شو. رسنیو دې پېښې ته ډېر پوښښ ورکړ. دا کس د السلوادور د یو غریب هیواد وګړی و او په دې موخه یې کډوالۍ ته مخه کړې وه، چې ځان او کورنۍ ته یو ښه ژوند برابر کړي. د امریکا د متحده ایالاتونو له تربګنۍ څخه ډکې د کډوالۍ ضد پالیسۍ له امله ده و نه شو کولی، چې د وچې له لارې متحده ایالاتونو ته واوړي، په همدې موخه یې د سیند له لارې د اوښتو هڅه وکړه خو د سیند څپو له خپلې درویشت میاشتنۍ لور سره مل غرق کړ.

ویل کېږي، چې یو انځور په خپل ځان کې په زرګونو خبرې لري. نو دا زړه ماتوونکی انځور نړۍ ته کوم پیغام لري؟

- دا پېښه موږ ته د یو ناتوانه پلار او لور کیسه کوي، چې د یوه بې رحمه ولسمشر او یوه بې رحمه پانګوال نظام د پرېکړو ثمره ده. همدا د دوی له تربګنۍ څخه ډکه د کډوالۍ ضد پالیسۍ( د مخکنۍ ادارې د میراث) پایله وه، چې دوی یې قرباني شول. داسې یو نظام چې هر څه ته د ډالرو له عینکو ګوري او د هیواد مالي نظام ته پر انساني کرامت او ژوند باندې لومړیتوب ورکوي.
- دا پېښه موږ ته د یوه داسې بې رحمه نظام کیسه کوي، چېرې چې له بې وزلو، بې وسو او نهیلو خلکو سره د حیوانانو په څېر کړنې کېږي، هغوی له جنګ ځپلې او له تاوتریخوالو سره لاس او ګریوان دولتونو څخه تښتېدلې او د ځان او کورنۍ لپاره د یوه ښه ژوند په هڅه کې وي.
- دا پېښه موږ ته د یو داسې نظام کیسه کوي چې هیڅ اخلاقي واک نه لري، تر دې چې د نړیوالو سیاستونو کرښې په کې معلومې شي او د نړۍ د نورو ملتونو د حکومتولۍ حدود په کې څرګند شي.
- له دې پېښې څخه په ډاګه کېږي چې اوسنۍ پر پانګوالۍ ولاړ ملتپال نظم هیڅ وجدان او ضمیر نه لري. د دوی ټولې پرېکړې د ګټې پر اساس کېږي پرته له دې چې انساني ارزښتونو او د اړمنو انسانانو کرامت ته وکتل شي.

رښتیا هم، د ځوان پلار او ماشومې لور د مرګ له زړه بوږنونکي انځور څخه داسې ښکاري، چې د کپټلیزم نظام به نور ټوټه کېږي او د ملي دولت سیاستونه به لمنځه ځې، کوم چې د بشریت په اداره کولو کې پاتې راغلي.

دا پېښه موږ ته دا پيغام راکوي، چې نړۍ يوه بل نظام ته اړتيا لري... يو داسې نظام چې په ريښتيا سره انسانيت ته په درنه سترګه وګوري، په دې موخه چې بشريت به له ظلم او تاريکيو ژغوري؛ يو داسې نظام چې د لوېديځ له لورې پر اسلامي خاوره ملتپاله ټپل شوي کرښې له منځه وړي، د مسلمانانو خاورې، سرچينې او خلک به يو موټی کوي؛ يو داسې نظام چې فاسده ملتپاله مفکوره او د ملي دولت سياستونه به ردوي. دا نظام به هر هغه چا ته چې غواړي په دې خاوره کې ارام ژوند وکړي، تابعيت، امن او ښه ژوند ورکوي پرته له دې چې د دوی رنګ، نژاد، مليت، قوم او مذهب ته وګوري. داسې نظام به وي، چې تر مادي ګټو به انساني کرامت، شرافت او د انسان ژوند ته ډېر ارزښت ورکوي.

د دواړو جهانونو رب، الله سبحانه و تعالی چې د علم او پوهې څښتن دی او هغه په هرڅه پوه او دا نظام جوړول يې په توان کې دي. دا نظام خلافت دی، چې د نبوت پر منهج به رامنځته کېږي او موخه به يې د مظلومو او بېچاره وو ساتنه وي او هغه اسلامي قوانين به پلې کوي چې ټول بشريت ته راغلي دي. دا رهبري د اسلام رهبري ده، چې يو وخت يې نړۍ د بشردوستۍ او اخلاقي مسوليت پر بنسټ رهبري کوله او که د الله سبحانه و تعالی خوښه وه، يو ځلې بيا به يې د اسلامي نظام د حاکميت پر بنسټ رهبري کوي.

انګرېز ليکوال، ويلز د خلافت د عدل په اړه ليکي: «دوی د عدل سترې بېلګې نړۍ ته وړاندې کړې. دوی خلک ځان ته په زغم او سخاوت سره راماتوي، بشردوسته او خواخوږې دي. دوی د يوې داسې خواخوږې ټولنې اساس رامنځته کړی چې د ظلم او ټولنيزې نابرابرۍ څرک ډېر لږ په کې لېدل کېږي. تر دې دمه مې د داسې ټولنې په څېر بله ټولنه نه ده ترسترګو شوې»

**﴿الَر كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ﴾**

**[ابراهيم:۱]**

*ژباړه: [اې پيغمبره!] دا يو کتاب(قران) دی چې پر تا مو د دې لپاره نازل کړی دی چې خلک له تيارو نه د رڼا په لور راوباسې. د هغوی د رب په توفيق سره، د هغه خدای لارې ته چې زور او په خپل ذات کې په خپله ستايل شوی دی.*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**ډاکټر نسرين نواز**

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو د څانګې مشره**